مطیع الله روهیال

۲۰۲۱/۱۲/۰۴

# نشره

## (د پښتو نشرې شعري او موضوعي جوړښت)

لنډيز: نشره د پښتو شفاهي ادب يو موضوعي ژانر دئ، چې د نوي زېږېدلي کوچني په خوشحالي کې په ځانګړو مراسمو سره ويل کيږي. په دې مقاله کې د نشرې په اړه عمومي بحث شوی دئ. په دې بحث کې د نشرې شعري او موضوعي جوړښت، ډولونه او د استعمال موارد ښوول شوي دي. د دې تر څنګ د نشرې په ويلو کې د افغانانو په ځانګړې توګه د پښتنو پر ذهني حالت خبري کيږي. څو دا معلومه کړي چې پښتانه په خپله کورنۍ کې نوي راغلي مېلمه ته په کومه سترګه ګوري او د هغه د راتلونکي له پاره کوم کوم خوبونهويني.
د دې څېړنې په پای کې به دا وښوول شي چې نشره څه شي ده، ولې ويل کيږي او سکښت او جوړښت ئې څنګه دئ؟

Abstract: Nashra is a thematic genre in Pashto language folklore that is recited in a particular occasion for the merry newly born child. Nashra in this essay is generally discussed. The poetic and thematic structure, types and implications of Nashra are articulated in this essay. Moreover, the mental situation of Afghans predominantly Pashtoons is discussed in Nashra recitation on order to show that Pashtoons treat the newly born guest in their family and how they dream about it in the future. It will be evident at the end to this research that what is Nashra, why is it recited, and how is the sketch and structure of Nashra?

کليدي کلمې: نشر، پښتو نشره، شفاهي ادبيات.

### سریزه:

نشره يوه فوکلوريکه عنعنه ده، چې په پښتني سيمو په ځانګړې توګه په جنوبي ولاياتو کې د نوي زېږېدلي کوچني په خاطر تر سره کېږي. مراسم ئې د زوکړي کوچني پر دريمه، پنځمه او يا اوومه نيول کيږي. تر څو د زوکړي کوچني مور و پلار د ځينو نورو خوشحاليو تر څنګ دغه دود د خپل توان و طاقت سره سم ولمانځي.

### د نشرې لغوي مانا:

د پښتو نشره له عربي نشرح سره چې د قرآن مجيد څلورنيويم سورت دئ، د موضوع اړېکی نه لري. نشره په خپله هم عربي کلمه ده. په عربي کې د (نشرة) په بڼه کښل کېږي د خبرتيا، ابلاغيې، اطلاعيې، اعلان، خپروني، نشريې او داسې نورو ماناوې افاده کوي. په المنجد (ترجمۀ فاسی) کې ئې د (نشرة) کلمې ته دغه ماناوې ليکلي دي: "اعلاميه، نشريه، نسيم" (۳: ۱۵۹۳). البته (نشر) کلمه هم په عربي کې د خپرېدو/ خپرولو، شيوع، تبليغ، ترويج، اعلان، خبرتيا او داسې نورو په ماناوو کارېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په څير و لولئ

په پښتو قاموسونو کې افغان قاموس يوازينی هغه دئ چي (نشره) کلمه ئي په هغه معنی ثبت کړې ده چي د پښتنو فوکلوريکه عنعنه راښيي. هلته ئي د نشره کلمي ته ليکلي دي: "منظومهٔ مخصوصيکه به تقريب ولادت فرزند نرينه خوانده ميشود" (١: ٥١٢). په دغه قاموس کي ئي د نشره پښتو مانا (آمي) ليکلي ده، زه د (آمي) کلمي په مفهوم پوه نه شوم

د نشرې په عنعنوي مراسمو کي د (نشر) کلمي لغوي څرک پټ دئ، د نوي زوکړي کوچني مور و پلار غواړي په دغو مراسمو سره ګاونډيان، کليوال او د کوڅي و محلي خلک خبر کړي. په کندهار کي ډېر پخوا چي د اوس غونډي د خبرېدو او نشرېدو وسايل موجود نه ول، د هغه کور پر بام چي زوی به پکښي زېږېدلی وو سهار وختي درې داسي ناري وهلي کېدي: "د خدای له داده، د مړو له ياده د پلاني (د پلار نوم ئي يادېدی) زوی وزېږېدی".

پر نوي زوکړي ماشوم نشره ډېره عامه او زموږ په خلکو کي مشهوره ده، د دغي عنعني بل استعمال د واده په لومړۍ شپه تر سره کېږي. د واده په لومړۍ شپه کله چي ناوې او زوم خپلي ټاکلي خوني ته ننوزي، د واده نوري ښځي د دغي خوني و مخ ته د نشرې ويلو دود پالي، دا کار تر هغه مهاله دوام کوي تر څو يا خو زوم پخپله راووزي او دغو ښځو ته يو څه روپۍ يا کوم بل څه ورکړي او يا دغه کار د زوم مور تر سره کړي. د دغي شپي د نشرې دوه هغه بندونه چي زما په حافظه کي دي په دې ډول دي:

آ د هلک موري
سر غوړ کړه سترګي توري
دا يوني درته ګوري
امين کئ مؤمنانو

آ د هلک پلاره
راواچوه کالداره
کالداره بتکۍ داره
امين کئ مؤمنانو

## د نشرې شعري جوړښت:

تر اوسه پوري ليدل شوي نشرې دوه ډوله سکښت و جوړښت لري:

لومړۍ:

د نشرې هر بند په څلورو اووه سيلابيزو مسريو کي ليکل کېږي. د هر بند لومړۍ درې مسرۍ همقافيه وي. څلرمه هغه ئي د هر بند په پای کي د انترې او کسر په شکل ورسره تکرارېږي. زموږ اکثرو نشره ويونکو خپلي نشرې پر دغه طرز ويلي او جوړي کړي دي، يو مثال ئي دا دئ:

اخوند چي نن ژړېږي
و زړه ته ئي نه لوېږي
چي څه راکول کېږي
درواغ نه دي رشتيا دي

اخوند که په دې پوه سي
چي ښه تارتوک به يوسي
ورک تاو بې د کولمو سي
درواغ نه دي رشتيا دي (٥: ١٥٢)

دوهم:

هر بند پنځه مسرۍ لري، لومړۍ درې مسرۍ همقافيه راځي، وروستۍ دوې مسرۍ ئي بېله قافيه تعقيبوي. دغه قافيه د بند تر هرې دريمي مسرۍ وروسته تکرارېږي او وروستۍ مسره ئي په تکراري ډول ورسره زمزمه کېږي. مثال ئي داسي دئ:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

د مور د لاس چارګل دئ
د پلار د زړه بلبل دئ
د خور د پیکي ګل دئ
یو طوطي دئ له طوطیانو
امین کئ مؤمنانو

مؤمن چي پیدا کیږي
تاثیر ئي معلومیږي
د پلار نوم پر یادیږي
یو غمی دئ د غمیانو
امین کئ مؤمنانو (٤: ٢٤٤)

دغه سکښت و رغښت په لږ بیل شکل هم کېدای سي، دلته بیا د هر بند لومړی او دوهمه مسری اووه سپلابه همقافیه راځي، دریمه او څلرمه مسری په پنځلس سپلابیزه اوږده مسری بدلیږي. وروستۍ څلرمه مسری بیرته اووه سپلابه راځي. په دې شکل کي اوږده پنځلس سپلابیزه مسری په ټوله نشره کي همقافیه ده، خو وروستۍ یعني څلرمه مسری قافیوي قید نه لري. مثال ئي د ارواښاد بریالي نشره کېدای شي:

الله شروع په نام ستا
شفیع درته کلام ستا
قبول دا مناجات کړې ستا د فضل په دربار کي
توکلنا علی الله

خالق یې د کونینو
رازق د شفتینو
پاشلی دي رحمت دئ، د تکوین په لاله زار کي
وارحمنا یا الهي (٢: ١٧٥)

د نشرې د شعري جوړښت په اړه ارواښاد استاد نومیالی داسي نظر لري: "د نشرې بیتونه د قافیې په حساب نه د مثنوي په ډول او نه هم د مربع په بڼه بلکې د مثلث شکل ئي درلودی. دا شکل که څه هم زموږ د ادبیاتو یوه ځانګه جوړوله خو زه تر دې اوسه پرته له نشرې بل چیري نه یم وربانديې پېښ سوی چي چا دي د بیتو یا د نظمو په فورمونو یا شکلونو کي د هغه نوم یاد کړی او یا راوړی وي". (٧: ١٢).
د استاد نومیالي تر خبرو وروسته به زه د یوې فرضیې په شکل ووایم چې: نشره زموږ په منظوم ادب کي کوم ځانګړی شعري ژانر نه دئ، بلکي یو موضوعي ژانر دئ چي د موضوع په لحاظ ځانګړی خو د شعري فورمونو له مخي کېدای شي په بېلابېلو فورمونو او شعري ژانرونو کي وویل شي او خپله ټاکلې موضوع وړاندې شي.
د نشرې د هر بند په تکراري مسره یا انتره کي ځیني عربي کلمې راوړل کېږي، دغه شکل ئي هم له ملایي ذهنیت سره تړاو لري، لکه: "سبحان من یرانی"، "سبحانک یا من هو"، "وارحمنا یا الهی" او داسي نور... د دغسي کلماتو استعمال نه اساسي قید دئ او نه لازمي خبره، بلکي دا د شاعر خپله خوښه، چي عربي کلمې استعمالوي که خپل پښتو عبارتونه راوړي، د ځینو نشرو تکراري مسره او انترې په دې شکل دي: "موږ وبخښئ الهي"، "امین کئ مومنانو"، درواغ نه دي رشتیا دي" او داسي نور ...

**د نشرې ویلو مراسم:**
د نشرې ویلو له پاره د مسجد ملا یا بل داسي څوک چي ښه ږغ ولري مناسب دئ، د ملا تر څنګ کله کله ځیني طالبان او یا کوچنیان د دې له پاره ناست وي چي کسر په لوړ ږغ ورسره تکرار کړي، د دغه تکرار ازانګې به تر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لیرو پوري خپرېدي، د هغه ځای خلکو چي به دا ازانګي واورېدي پوهېدل به چي حتماً د کلي یا محل په کومه برخه کي د چا زوی زوکړی دئ.
تر دي وروسته د نوزېږي کوچني د پلار له خوا د دغو مراسمو ګډونوالو ته د خپل وس و توان مطابق چای، کیک و شیدي، وچه مېوه یا تر دي اضافه نور خوراکي شیان برابرېږي. د دغو شیانو د خوړلو پر مهال د مراسمو ګډونوال د خوښی او خوشحالی اظهار کوي او د نوي زوکړي ماشوم د ښي راتلونکي له پاره دعاوي کوي.

## د نشري موضوعي جوړښت:

دا چي زموږ اکثره نشري ملایانو یا ملا پیشه خلکو لیکلي او ویلي دي، نو په اکثرو کي ئې د موضوع په لحاظ لومړی حمد، ورپسي نعت، تر هغه وروسته د څلورو یارانو یادونه کړېده. د دي تر څنګ د ځینو نورو پیغمبرانو او صالحینو مناقب او شمائل هم پکښي بیانېږي، ځینو خو لا اوږدې اوږدې دیني کیسي پکښي منظومي کړي دي. تر هغه وروسته ئې د نوي زېږېدلي کوچني مور و پلار ته د هغه د زوکړي مبارکي ورکړې او د ښه نوم اېښوولو توصیه ئې ورته کړېده. ورپسي ئې د نشره ویونکو د ستړیاوو او خولو تویولو په بدل کي د کوچني مور و پلار ته د سوال لاس اوږد کړی او له هغوی څخه ئې د شکراني او شیریني غوښتنه کړېده. کله کله ئې دغه برخه د ټوکو او طنز په ژبه وړاندي کړي چي ښه مثال ئې د ملا محمدعمر اخوند نشره ده. هره نشره په دعائیه سره خلاصېږي.
خو دغه موضوعي جوړښت تغیر هم کولای سي. حتمي نه ده چي پورته خبري دي پکښي شاملي سي. ما چي کله د مرحوم نومیالي نشره ولیده په موضوعي لحاظ ئې د پخوانیو نشره ویونکو پر پله بالکل قدم نه دئ ایښی، بلکي هغه څه ئې ویلي او وړاندي کړي دي چي د نوي زوکړي کوچني سرنوشت ورسره تړلی او په راتلونکي ژوند کي ورسره مخامخېدونکی دئ. د مرحوم نومیالي په نشره کي نه د شیریني او شکراني خواستونه وجود لري او نه نور بیانونه.
استاد نومیالی د خپل پخواني تاریخ له کمزوریو، د حال له سرزوریو او راتلونکي له سرګرمیو څخه خبر وو او د یوه سترګور او ژبور انسان په ډول ئې غوښتل د افغان راتلونکي نسل دغه نوي زېږېدلي ماشوم ته هغه څه ووایي چي سرنوشت ئې ورسره تړلی دئ، په دې باب خپله وایي:
"په دې نشره کي د تخیل تابلو داسي ده چي نوي زوکړي انسان ته چي هغه دلته [روښان] نومېږي، موږ د روان ژوند بیان کوو او خپل ارمانونه هغه ته په میراث پرېږدو چي په نوی پېړی کي ئې د خپل همت په برکت تر سره کړي. د افغان اولس دغه راز نوی نسل چي په نورو هیوادو کي راپیدا کېږي او په یو څو کلونو کي ئې شمېر زرهاوو ته رسېږي، باید د خپلو پلرو او نیکه ګانو له حال احواله څخه بې خبره پاته نه سي او یا خو ئې خپله ملي دنده له یاده څخه و نه وزي". (۷: ۱۳).
د استاد په نشره کي ځینو داسي موضوعاتو ته اشاره سوېده چي زما په فکر دغه نوزېږي ماشوم ته ئې ویل په روحیاتي لحاظ ګټور څه بلکي لازمي و ضروري دي، مثلاً یو ځای ورته وایي:

پر مرداره موږ جنګېږو
پر ناحقه موږ خښمېږو
نژدې نه سوو لیري کېږي
خدای دي لوی لره هلکه

د استاد د مرداري په جنګ او د نژدې والي پر ځای په لیري والي ښه پوره سر خلاص وو، له دغه اسیته ئې تر خپل وطن جلاوطنی ته ترجیح ورکړه. یو بل ځای داسي ورته وایي:

ناپوهي زموږ په خوا ده
خواهشات ستره بلا ده
د امي که د ملا ده
خدای دي لوی لره هلکه

علم زموږ کره بدنام دئ
هنر لاندي تر اعدام دئ
ملا توپک هلته امام دئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

خدای دي لوی لره هلکه

خړي هر چيري وتلي
سر تر پايه په لړلي
لا په سوټو سره ولي
خدای دي لوی لره هلکه

لومړی د پښتني ټولني د بربادۍ اصلي منشاء ورښيي، وروسته ئې علم ته داسي تشويقوي:

سر مو وړی جهالت دئ
ژوند مو ټول منافقت دئ
زموږ قبله خپل منفعت دئ
خدای دي لوی لره هلکه

ځان په علم آراسته کړه
خپله ملا ورته بسته کړه
زموږ چپه بېړی راسته کړه
خدای دي لوی لره هلکه (۷: ١٤)

کوم فولکلوري ليکلي او چاپ شوي آثار چي ما تر اوسه کتلي او ليدلي دي، په هغو کي د نشري پر داسي بحث پيښ شوی نه یم چي د دغي فوکلوريکي عنعني په اړه هراړخيز تشريحات وړاندي کړي خو زما د معلوماتو له مخي د نشري په اړه ځيني ځانګړي رسالي او آثار چاپ شوي او خپاره شوي دي چي په لاندي ډول ئې دريږنم:

## د نشرو ځانګړي مجموعي:

### اووه نشري:

د اوو نشرو دغه مجموعه ارواښاد محمدناصر نصرت راټوله کړېده او اووه نشري ئې پکښي يو ځای کړي دي، ځکه ئې نو نوم هم (اووه نشري) ورته ټاکلی دئ. د راټولوونکي تر څنګ ارواښاد عبدالقدوس نجيب کندهاري هم د مقدمي په شکل څو خبري پر ليکلي دي. د دغي مجموعي دريم چاپ زما مخ ته پروت دئ چي په ١٣٨٣ش کال خپور شوی دئ.

### پښتو نشرحي:

د پښتو نشرو دغه مجموعه د جنوبي پښتونخوا د ښاغلي ليکوال ډاکټر عبدالرؤف رفيقي په زيار راټوله شوی ده، د يوې فارسي نشرې په شمول ئې ٣٣ نشرې پکښي راټولي کړي دي. په سر کي ئې يوه اوږده مقدمه پر ليکلي او په وروستی برخه کي ئې نشرې چاپ شوي دي. دا مجموعه په ١٣٧٤ش کال د حبيبي اکادمی چمن له خوا خپره شوی ده.

### ولسي نشرې:

د يوويشتو نشرو دغه مجموعه د ښاغلي عبدالله ستوري په زيار راټوله شوې ده او په ١٣٩١ش کال په کندهار کي صداقت خپرندويه ټولني چاپ کړېده. پر دې مجموعه باندي ښاغلي عبدالاحمد محمديار سريزه ليکلي ده.

د کندهار مشهور نشره ويونکي شاعران:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ملا محمدشریف جانان، حکیم محمدعیسی ترین، رسوا عبدالکریم، مولوی عبدالغفار بریالی، محمدناصر نصرت، ملا محمدعمر اخند، ملا عبدالسلام، گل محمد گلبیدار، سید عبدالخالق صادق او عبدالله ستوری.
کېدای شي له دغو کسانو پرته نورو شاعرانو هم نشرې ویلې وي، خو دا هغه کسان دي چې نشرې ئې اوس هم په ډېرو کورونو کې پر نوو زېږېدلو ماشومانو ویلې کېږي.

## د نشرې فوکلوریک اړخ:

د "پښتو نشرحې" د مقدماتي خبرو په ځینو ځایونو کې نشرې ته د تقدس سروزنه وراچول شوېده، خو زه داسې فکر کوم چې نشره نه مذهبي حیثیت لري او نه باید د عربو له عقیقې سره تړاو ورکول شي. نشره فقط یوه کلتوري عنعنه ده. د تقدس پرتوک وراغوستل د تامل وړ خبره راته برېښي. دا خبره ځکه کوم چې زموږ په ټولنه کې تر اسلام مخکې هم کوچنیان زېږېدل او اوس هم زېږي. دا څوک نه شي ویلای چې زموږ دغسې کلتوري موضوعات له اسلامه راپیل شوي دي.
زموږ په ځینو کلتوري و فوکلوریکو موضوعاتو کې تر اسلام مخکې زماني څرکونه لیدل کېږي. زموږ ځینې کلتوري و فوکلوري موضوعات د اسلام سره کوم تړاو نه لري، بلکې دا د دغې سیمې د عامه ذهنیت او په ځینو برخو کې د هغه مهال د پوهې یوه نمونه کېدای شي. پر دې سربېره مې د نشرې په اړه د اروابناد نومیالي یوه لنډکی مقاله خو خوندوره نشره لیدلې او مطالعه کړېده. استاد نومیالی زموږ په څېړونکو کې د ځانګړي فکر او د موضوعاتو په اړه د خپل خاص تفکر تښتن لیکوال وو. کوچنۍ موضوع ئې په ډېرو ښو دلایلو توضیح کولای شوای او په اصطلاح د افهام او تفهیم قوت ئې دومره زیات وو چې په لږ وخت کې ئې زیات موضوعات د لوستونکي ذهن ته پېچکاري کولای شوای. د استاد دغه څېړنیزه ځانګړتیا د هغوی په ټولو ځانګړو آثارو او مقالو کې څرګنده ده. د نشرې په اړه د استاد دغه لنډه مقاله ډېر مهم ټکي لري. د دې تر څنګ د ښاغلي محمدیار هغه تحلیلي مقاله هم په ډېر څه ارزي چې د ولسي نشرې نومي کتاب په سر کې چاپ شوېده. د دغې لیکنې د ډېرو خبرو او تحلیلونو سره همږغه یم، خو فقط یوه خبره به پر اضافه کړم، چې زموږ مشکل په نشره کې نه دئ، زموږ مشکل په هغه پیکه عامه ذهنیت کې دئ چې نشره یوازې پر هلک ویل کېږي. د دغه ذهنیت په مقابل کې ږغ پورته کول او په وړاندې ئې مبارزه د هر روښنفکره مسئولیت بل لا ضرورت دئ چې له نیکه مرغه دغسې ږغونو او بحثونو د نشرې مسیر ته تغیر ورکړ او اوس دا دئ په کندهار کې د هلک تر څنګ پر نوې زېږېدلې نجلۍ هم نشرې ویل کېږي او هم خوشحالی تر سره کېږي.

## ماخذونه:


1. افغاني نویس، عبدالله. (۱۳۳۶ش). افغان قاموس/دریم ټوک، کابل: پښتو ټولنه.
2. بریالی، عبدالغفار. (۱۳۸۲). اهاړ، کوټه: مکتبه قاسمیه.
3. رحیمي نیا، مصطفی، (۱۳۸۳ش). المنجد/ ترجمهٔ فارسی، تهران: نشرات صبا.
4. رفیقي، عبدالرؤف. (۱۳۷۳ش). پښتو نشرحې، چمن: حبیبي اکادمی.
5. ستوری، عبدالله. (۱۳۹۱ش). ولسي نشرې، کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.
6. نصرت، محمدناصر. (۱۳۸۳ش). اووه نشرې، خپرندوی: خپله ټوولونکی.
7. نومیالی، محمدانور. (۱۳۷۶). په کندهار کې د نشرې جال، مسکو، لیمه مجله.


---

دا لیکنه پر ۲۰/ ۱/ ۱۳۹۸ش تاریخ ورمي مجلې ته د چاپ له پاره واستول سوه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ